مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۳/۱۱/۱۵

# د کونړ سیند سیاسي او اقتصادي اهمیت

کونړ د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملې د ستراتیژیک موقعیت له امله یو له ډیرو مهمو ولایتونو نه شمېرل کېږي چې د ۵۰۰۰۰۰ په شاوخوا کې وګړي په کې ژوند کوي، څه د پاسه ۴۵۰۰ کیلومتر مربع مساحت لري، دغه ولایت د افغانستان په ختیځ کې پروت دی ، چې شمال ته یې نورستان، سهیل ته یې ننګرهار، لویدیز ته یې د لغمان ولایت موقعیت لري. په ختیزلور کې یې ۱۷۵ کیلومتره ګډه پوله، له خیبر پښتونخوا سره تشکیلوی.

د نړۍ په تاریخ کې هغه سیمې د ولسونو او څواکونو د پوره پاملرنې وړ ګرځیدلی دي چې د نورو سیمو په پرتله د هغوي جغرافیوی، اقتصادي، فرهنګي او سوق الجیشي موقیعیت د یو شمېر لوړو مشخصاتو لرونکي وي. په داسي سیمو کي زموږ په تاریخي هیواد کې هم ولسونه ځاي پر ځاى شوي کلاګاني، کلي، ښارونه یې اباد کړي۳، تجارتي، مذهبي علمي او کلتوري مرکزونه یې رامینځته کړي او مدنیتونه یې ایجاد کړي دي.

کونړ ولایت هم د تاریخ په اوږدو کي د همداسي لوړو مشخصاتو لرونکي سیمه ده چي په خاص ډول د کنړ سرشاره سیند او د راز، راز ځنګلونو موجودیت د دغه ولایت اهمیت خورا ډیر کړی او تل یې زموږ د حریص ګاونډي پاکستان د پاملرنې وړ ګرځولی دیی

تیرو ۵ لسیزو جګړو دغه ولایت هم د هیواد د نورو مهمو سیمو شانته خورا زیانمن کړ، دغو ناخوالو او جګړو پاکستان ته خورا ښه فرصت په لاسه ورکړ چې هم د کونړ د سیند له اوبو او همدا ډول د دغې سېمي له ځنګلونو نه په پراخه پیمانه غیر قانوني استفاده وکړي.

تیرو تپل شوو جګړو د کونړ د سیمې خلکو ته دا فرصت په لاس ورنه کړ چې د وخت دولتونه وهڅوي تر څو د کونړ پر سیند د بندونو د جوړولو هلېځلې وکړي او نه داسي یو څواکمن دولت رامنځته شو او نه هم شته دولتونو ته داسی موقع په لاس ورغله چې حتی پر دغه سیند د بند د جوړولو سوچ هم وکړي.

دا یو څرګند حقیقت دی، چې پاکستان د تاریخ په اوږدو کې د خپل د جوړیدو را وروسته په ټولو امکاناتو او حریصانه پالیسیو هلېځلې کړي، تر څو زموږ په هیواد کې د یو څواکمن او با ثباته دولت د جوړیدو مخه ونیسي.

افغان ولس باید په دې پوه شي چې د پاکستان د دغو ظالمانه او دښمنانه سیاستونو اصلی لاملونه، د یو شمېر نورو مسایلو ترڅنګ خورا مهم یې د دیورند کرغېړنه کرښه، د کنړ د سیند اقتصادي اهمیت، او د افغانانو تاریخی دوستی له هندوستان سره د یادولو وړ ده.

د طالبانو د حاکمیت په راتلو سره، پاکستاني جرنیلانو داسی سوچ کاوه چې ، دغه نظام چې نه د نړۍ هیوادونو په رسمیت وپیژنده او نه یې، د افغان ولس نه قانوني مشروعیت تر لاسه کړ او همدا ډول له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دی؛ نو دوي به حتماً د پاکستان غوښتنو ته مثبت ځواب ورکوي، خو ولیدل شول چې، طالب چارواکو په ډېرو لږو امکاناتو ستري ساختماني او بنیادي پروژې په کار پیل کړې، د قوشتیپې کانال، د مهمو لارو جوړول، او د هیواد د یو شمېر کانونو د استخراج قراردادونو د اوبو د مهارولو پالیسیو، ایران، تاجکستان، اوزبکستان او په خاص ډول پاکستان له سخت تشویش سره مخامخ کړل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زما په اند چې تر ټولو زيات به پاکستان په پټه او ښکاره له طالب چاروکو نه د دغو پروژو د نه عملي کولو غوښتنه کړې وي، مګر کله چې يې غوښتنو ته د رد ځواب ورکړ شوی، بيا يې نو، پر طالب حکومت د فشار او ظالمانه تهديدونو نه کار واخيست.

د افغان تجارانو پر مخ د تورخم لار تړل چې د تازه ميوو او سبزيجاتو له امله په ميليونونه افغاني افغان سوداګرو ته زيان واوښت په دې ترتيب يې غوښتل د ملی سوداګرو او طالب چارواکو تر منځ واټن رامنځ ته کړي.

پنځه لسيزی پاکستان تيروريستی، بيلا بيلی ډلی په خپل هيواد کې، روزلې، وسلې يې ورکولي او د ورانکاريو، افغان وژنو او هيواد ورانولو له پاره يې زموږ هيواد ته راليږلې، چې په دې رابطه يې د افغان دولتونو وار ـ وار غوښتنو او شکايتونو ته هيڅ پاملرنه نه کوله، مګر اوس چې د دوي خپله روزل شوو پاکستاني طالبانو له دوی سره ستونزه لري، له طالبانو غواړي چې دوي ته يې وسپاری، حال دا چې طالبانو وار ـ وار ويلی، چې د افغانستان نه هيڅ کوم بل هيواد ته خطر نه پيښيږي.

وروستی غير اسلامي غير انساني عمل د ژمي په دې ساړه موسم کې د افغان مهاجرينو په جبر او وحشت ويستل دي، چې دغه غير عادلانه عمل د بشر د حقوقو او نړيوالو کنوانسيونونو خلاف عمل دی، چې په دې توګه دوي غواړي پر طالبانو اقتصادي فشار ورزيات کړي تر څو د انشکافي پروژو د عملي کولو مخه ونيسي او له بله پلوه افغان ولس د طالبانو پر ضد راوپاروي.

دا يو څرګند حقيقت دی، چې اوسنی افغان دولت د خپلو ګاونډيو په پرتله نه په اقتصادي لحاظ او نه په نظامي برخه کې سيالي کولای شي، مګر ځني فرصتونه، حساسی شيبې او خاص امکانات شته چې که طالبان وشي کولای ترې کار واخلي، د ګاونډيو د هر فشار په مقابل کې ستر ګواښ ورپيښولای شي، چې هغه د افغانانو اتم بم (سرشاره اوبه دی).

ميډيا په ډاګه کړه چې د افغان مهاجرينو په اړه د پاکستان د غير انساني او ظالمانه چلند له امله په هيواد کې دننه او له هيواده بهر په زرګونو افغانانو غږ پورته کړ چې د کنړ پر سيند باندې د بند د جوړولو له پاره هردول اقتصادي مرستې ته حاضر دي، نو ځکه طالب چارواکي بايد له دغو حساسو شيبو او فرصت نه لازمه استفاده تر لاسه کړې وای د اوس له پاره يې د يوه بند د سروی چاری پيل کړې وای او د افغانانو د مرستو له پاره يې يو اختصاصی اکونټ پرانيسی وای، چې دغه چاره د پاکستان له پاره ستر ګواښ او د روانو غير انساني پاليسيو د مخنيوی لامل کيدای شو.

د کونړ پر سيند باندې د بندونو جوړول خورا اقتصادي اهميت لري، په زرګونو کيلوات برق توليدولای شي او په فني ډول په سلګونه جريبه ځمکې خړوبوي، د فارمونو او باغونو له پاره اسانتياوې برابرولی شي او په سياسي لحاظ د ګاوندی هيواد پاکستان د کلونو ـ کلونو حريصانه او غير عادلانه پاليسيو ته په دغه برخه کې د پای ټکی ايښودل کيږي. اوبه مهار کيږي زموږ د غوښتنو په تناسب به اوبه پاکستان ته ورکول کيږي البته د متقابلو ګټو په نظر کې نيولو سره.همدا يې ښه او مناسب وخت دي، د افغان مهاجرينو په هکله د پاکستان د نګران حکومت او جرنيلانو د ظالمانه او خاينانه چلنډ په مقابل کې د افغانانو د احساساتو نه بايد طالبان مثبته ګټه پورته کړي او د کنړ پر سيند باندې د بند جوړولو پر چارو هرو مرو پيل وکړي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ